سپینه مانی

د مطبوعاتی سکرتر دفتر

---

د فوری نشر د پاره                                    د کال ۲۰۱۰ د نومبر ۱۰

**د جمهور رئیس وینا**

**په جاکارتا کی**

**د اندونیزیا پوهنتون**

**جاکارتا، اندونیزیا**

*د سهار ۹:۳۰ بجی*

*جمهور رئیس: تیریما کاسی. تیریما کاسی، ډیره مننه. ډیره مننه تاسو ټولو نه. سلامت پاگی. (چک چکی.) دا ډیره په زړه پوری ده چه دلته یمه د اندونیزیا پوهنتون کی. د پوهنتون کدر، مامورینو او محصلینو ته او ډاکټر گومیلار روسیلوا سومانتری ته، ستاسو د میلمه پالنی نه ډیره مننه. (چک چکی.)*

*اسلام علیکم ډان سلام سیاتیرا.* ددی عالی هرکلی نه مومننه. ستاسو د جاکارتا د خلکو نه مننه او ستاسو د اندونیزیا د خلکو نه مننه.

پولانگ کامپونگ نی. ( چک چکی.) زه پدی ډیر خوشحاله یم چه اندونیزیا ته بیا راغلم، او میشل هم وکړای شول چه راسره راشی. سږکال مونږ دوه ځلي اراده وکړه چه راشو، خو ما هوډ کړی و چه دغه ملک ته به چه ما ته ډیره معنی لری راشم. او له بده مرغه چه دا ډیر لنډ سفر دی، خو زه دیته سترگی په لاره یم چه د نن نه یو کال بعد به بیا راځم، کله چه اندونیزیا د ختیزی آسیا د هیوادونو د مشرانو د عالی جرگی کوربه وی. (چک چکی.)

مخکی لدینه چه وړاندی لاړ شم، غواړم ووایم چه زمونږ فکر او دعا گانی د ټولو هغواندونیزیائیانو سره دی چه د تازه سونامی طوفان او د اور غورځونکی غره د غړمبیدونه متأثره شویدی، په تیره هغه چه خپل عزیزان ئی د لاسه ورکړیدی او هغه چه د خپلو مینو نه بی ځایه شویدی. اوزه غواړم تاسوټولو ته ووایم چه متحده ایالات د تل په شان د اندونیزیا تر څنگ طبیعی آفاتو سره د مقابلی لپاره ولاړ دی، او خوشحاله یو چه د مرستی توان لرو. لکه څنگه چه گاونډیان د گاونډیانو سره

مرسته کوی او کورنی بی ځایه شوړو خلکوته ځای ورکوی، پدی ښه پوهیږم چه د اندونیزیا استقامت لرونکی خلک به یو ځل بیا ددی مصیبت نه هم راووځی.

پریږدی چه پدی ساده الفاظو خپله وینا پیل کړم چه اندونیزیا داری دیدی سایا. (چک چکی.) زه دی ملک ته په اول وار هغه وخت راغلم چه مور می د یوه اندونیزیائی سره، چه لولو سوتورو نومیده، واده وکړ. او زه تنکی ماشوم وم، د یوه تنکی ماشوم په توگه زه بلی دنیا ته راغلم. خو د اندونیزیا خلکو ډیر زر ما ته د خپلوی احساس راکړ.

جاکارتا -- اوس، جاکارتا په هغو ورځو کی بل ډیر ښکاریده. ښار د داسی ودانیو نه ډک ووچه فقط څو پوړونه ئی درلودل. دا په ۱۹٦۷، ٦۸ کی و، او تاسو کی ډیر لا زیږیدلی نه وی. (خندا.) د اندونیزیا هوټل فقط یوه څو پوړیزه دنگه ودانی وه او فقط یو غټ بازار وو چه د سرینه په نامه یادیده. بس همدا وو.(چک چکی.) بیچاکس (یو ډول رکشا گانی) او بیموز وو چه خلکو پکی تگ راتگ کاوه. او هغو ورځو کی د موټرو نه ډیری وی، او دا پاخه سرکونه چه اوس هره خوا لیدلی کیږی هغه وخت نه وو. ډیر لږ وو او زر به ختم شول او په ځای به ئی خامی لاری یا کامپانگز راپیدا شول.

نو، موږ میتینگ دالام ته کډه شوو چه – (چک چکی) – هی، د میتینگ دالام ځینی اوسیدونکی دلته شته. (چک چکی.) او یوه وړوکی کور گوټی کی میشته شوو. د آمونو یوه ونه ئی مخی ته ولاړه وه. او د اندونیزیا سره زما مینه پیدا شوه او پتنگ به می الوځاوه، د وریجو په کروندہ که به می منډی وهلی او بمبیرک مچان به می نیول، او د سرک د غاړی د تبنگ خرڅونکو نه به می ساتی او باسو اخیستل (چک چکی.) زما لا هم د تبنگ خرڅونکو ناری په یاد دی. ساتی! (خندا.) (خندا.) دامی په یاد دی، باسو! (خندا.) خو د ټولو نه زیات می خلک یادیږی – سپین ږیری او سپین سری چه په موسکا به ئی زموږ هرکلی کاوه؛ اوماشومان چه یوخارجی ماشوم ئی د ځان د یوه گاونډی او یوه ملگری په ډیر گاڼه؛ او ښونکی چه ما سره ئی ددی ستری نړی په پیژندگلوی کی مرسته کوله.

لدی امله چه اندونیزیا د زرگونو جزیرو، سل گونو ژبو، او د بیلو بیلو فرقواو نژادونو نه جوړ هیواد دی، او هغه وخت چه ما دلته تیر کړی د ټولوانسانانو د گډی خواخوږی په قدر ډیر پوه شوم. او پداسی حال کی چه زما پلندر، د ډیرواندونیزیئیانوپه څیر، مسلمان رالوی شوی و، کلکه عقیده ئی درلوده چه ټول مذهبونه د درناوی وړ دی. او پدی توگه ۷۷ (چک چکی) ۷۷ پدی توگه هغه د مذهبی زغم د هغی روحیی انعکاس ورکاوه چه د اندونیزیا په اساسی قانون کی نغښتی ده، او لا هم ددی ملک په قاطع اوالهام بخښونکو مشخصاتو کی پاتی ده. (چک چکی.)

اوس، زه دلته څلور کاله پاتی شوم – او هغه داسی وختونه وو چه زما د ماشومتوب څرنگوالی ئی جوړ اوه؛ داسی دوران وو چه زما ښایسته خور، مایا، پکی پیدا شوه؛ او داسی دوران چه زما په مور باندی ئی دومره اثر واچوه چه په راتلونکو ۲۰ کلونو کی بیا بیا د ژوند، او د کار او سیل لپاره اندونیزیا ته راتله -- او خپله دا لاره ئی نیوله چه د اندونیزیا کلیوالو سیمو کی د کار اوروزگار فرصتونه پیدا کړی، په تیره بیا ښځو اوجینکو ته. او ما ډیر افتخار کاروه – (چک چکی) – ما ډیر ویاړکاوه کله چه تیره شپه په دولتی میلمستیا کی جمهور رئیس یوډویونو زماد مور په نامه یوه جایزه، راکړه او د هغی د کار درناوی ئی وکړ. هغه به ډیره خوشحاله وه ځکه چه زما مور د خپل ژوند تر پایه پوری اندونیزیا او ددی ځای خلک

په خپل زړه کی کلک او نزدی ساتلی وو، ټول ژوند کی. (چک چکی.).

نو، پدی څلورو لسیزو کی چه زه یوی الوتکی کی بیرته هاوائی ته لاړم ډیر څه بدل شوی دی. که تاسی زما نه پوښتنه وکړی چه – او یا هر هغه څوک چه په هغو کلونو کی زما په ټولګی کی راسره وو رانه پوښتنه وکړی، ګومان نه کوم چه هیچ چا به هم دا تصورکاوه چه یوه ورځ به زه بیرته جاکارتا ته د متحده ایالاتو د جمهور رئیس په توګه راځم (چک چکی.) او ډیرو لږو خلکو به د هغه خارق العاده بدلون تصور کاوه چه پدی تیرو څلورو لسیزو کی اندونیزیا ته راغلی دی.

هغه جاکارتا چه یو وخت ما پیژانده، اوس د لس میلیونو خلکو په یوه داسی ښار بدل شوی دی چه د هوټل اندونیزیا ودانی پکی د څو پوړیزه ودانیو او د غښتلو کلتوری او تجارتی مرکزونو په سیوری کی بیخی ورک دی. پداسی حال کی چه ما او زما ملګرو به په کروندو کی په غوایانو او بزو پسی منډی وهلی، یو نوی نسل د اندونیزیائی ځوانانو مینځته راغلی چه په مزو د نړی سره تړلی دی، د موبایل تیلفونو له لاری او د اجتماعی شبکو له لاری. اوهغه وخت اندونیزیا د یوه ځوان هیواد په څیر خپلو کورنیو مسلو ته ځیر و، او د دآرام سمندر د سیمی دهیوادونو او د نړی په اقتصاد کی غټ نقش لری. (چک چکی.)

اوس نو دا بدلون سیاست ته هم غزیږی. کله چه زما پلندر لا یوهلک وو، خپل پلار اومشر ورور ئی لیدلی وو چه د اندونیزیا د آزادی جنګ ته تللی او خپل سرونه ئی پکی بایللی وو. او زه خوشحاله یم چه د اتلانو په ورځ دلته راغلی یم چه د هغو بی شمیره اندونیزیائیانو په یاد لمانځل کیږی چه ددی ستر هیوادو د پاره ئی قربانی ورکړی دی. (چک چکی.)

کله چه زه جاکارتا ته راغلم، ۱۹۶۷ کال و، او داسی وخت وو چه ددی ملک په ځینو برخو کی ډیر سخت رنځ او کړاوونه تیر شوی وو. که څه هم چه زما پلندر په پوځ کی خدمت کړی و، خو د هغه وخت د سیاسی پړواونو په دوران کی د تشدد اونارامیو او وژنو داستان ما ته معلوم نه وو ځکه چه زما اندونیزیائی کورنی او دوستان پری نه غږیدل. زمونږ په کور کی، په ټولی اندونیزیا کی د نورو کورونو په څیر، د هغه دوران مسله نه یادیده. اندونیزیائیانو خپله خپلواکی تر لاسه کړی وه خو معمولاً هغوی ډاریدل چه د هغو مسلو په باره کی په خپلو نظریاتوو غږیږی.

د هغه وخت نه رادیخوا کلونو کی، اندونیزیا د فوق العاده دیموکراتیک بدلون راوستو په طریقه خپله لاره پیدا کړه، ملک د کلک په اصطلاح د وسپنیز موټی د واکداری نه د خلکو واکداری ته واوښت. پدی تازه کلونو کی نړی په ډیر امید او لیوالتیا سره د اندونیزیا د خلکو نندارہ کوله چه قدرت ئی په سوله ایزه طریقه د انتخاباتو له لاری ټاکل شوو مشرانوته ولیږداوه. او څرنګه چه ستاسو منتخب جمهور رئیس او پارلمان، ستاسو د ډیموکراسی نښی دی، ستاسو ډیموکراسی د څارنی او د توازن له لاری لا پسی غښتلی شوی ده: یوه ژوندی مدنی ټولنه؛ سیاسی ګوندونه او اتحادیې؛ ژوندی او متحرک مطبوعات او داسی خلک لری چه دا یقین حاصلوی چه اندونیزیا به د ډیموکراسی نه بیرته په شا نه ځی.

خو سره لدی چه دا زما د ځوانی خاوره له ډیرو اړخونو نه بدله شویده، هغه شیان چه زما د اندونیزیا په برخه کې ډیر خوښ وو – هغه د زغم روحیه ده چه ستاسو په اساسی قانون کی لیکل شویده؛ چه ستاسو په جوماتونو کی او کلیسا ګانو کی او معابدو کی چه د یو بل څنګ ته ولاړ دی نقش ده؛ دا روحیه لا هم ستاسو په خلکو کی موجوده ده، او لا هم ژوندی ده.

(چک چکی.) بینیکا توگالیکا – یعنی وحدت په تنوع کی. (چک چکی.) دا نړی ته د اندونیزیا د مثال تاداو جوړوی، او همدا دلیل دی چه اندونیزیا به په یو ویشتمی پیړی کی دومره ډیره مهمه برخه لری.

نو، نن ورځ، زه اندونیزیا ته یوازی د یوه دوست په حیث نه بلکه د یوه جمهور رئیس په توګه چه زمونږ د دواړو هیوادونو تر مینځ د یوه ژور او دوامداره شراکت په لټه کی دی ، هم راغلی یم. (چک چکی.). ځکه چه د سترو او د تنوع نه ډکو هیوادونو په څیر؛ د آرام سمندر په دوه اړخوونو کی د ګاونډیو هیوادونو په څیر؛ او د ټولو نه مهم د ډیموکراسیو په څیر—— متحده ایالات اواندونیزیا د ګډومنافعو او د ګډو ارزښتونو په مزو سره تړلی هیوادونه دی.

پرون، جمهور رئیس یوډویونو، او ما د متحده ایالاتو او د اندونیزیا تر مینځ د یوه نوی جامع او هر اړخیز شراکت اعلان وکړ. مونږ زمونږ د حکومتونو تر مینځ په بیلو بیلو ساحو کی اړیکی زیاتوو، او په همدی پیمانه مهمه خبره دا ده، چه مونږ دخپلو خلکو تر مینځ هم علایق ډیروو. دا د مساوی او برابرو خلکو شراکت او په متقابله ګټو او متقابله درناوی ولاړ شراکت دی.

نونن پدی راپاتی وخت کی زه غواړم چه پدی وغږیږم چه ولی می دا داستان تاسو ته بیان کړ، د اندونیزیا داستان د هغو وختونو چه زه دلته اوسیدم، دا متحده ایالاتو اونوری نړی ته ډیر اهمیت لری. زه به په دریو برخو باندی تأکید وکړم چه د یو بل سره ډیر نزدی ارتباط لری او د انسانانو ترقی کی اساسی اهمیت لری اوهغه انکشاف یا وده، ډیموکراسی او د مذهبی عقیدی او ایمان مسلی دی.

اول، د متحده ایالاتو او د اندونیزیا تر مینځ دوستی زمونږ په ودی او پرمختیا کی زمونږ ګډ علایق په مخ بیولی شی.

کله چه زه اندونیزیا ته راغلم، د داسی آیندی تصور هغه وخت ډیر مشکل وو چه په شیکاګو او جاکارتا کی د کورنیو سوکالی اوهوسائی یو بل پوری وتړل شی. خو زمونږ اقتصادونه اوس نړیوال دی او اندونیزیائیانو هم د نړیوالی اقتصاد ژمنی او هم هم ئی خطرونه اومسؤلیتونه لیدلی دی: د ۹۰ می لسیزی د آسیا د مالی بحران د ټکان نه نیولی تر دی دمه چه د تجارت او راکړی ورکړی د زیاتیدو له امله په میلیونونو خلک د غربت اونیستی نه راوتلی دی. ددی معنی څه ده -- ددی تازه اقتصادی بحران نه چه مونږ کوم سبق واخیست – دا دی چه د یو بل په بری کی زمونږ ډیر څه نغښتی دی.

امریکا د داسی یوی اندونیزیا سره کلکی اړیکی غواړی چه وده اوانکشاف وکړی، سوکاله شی او شتمنی د اندونیزیا د خلکو تر مینځ په پراخی پیمانی وویشل شی – ځکه چه پدی ځای کی د یوی مینځنی پر مخ تلونکی طبقی د ر ا اوچتیدو معنی دا ده زمونږ د مالونو لپاره نوی بازار پیدا کیږی، همداسی چه امریکا د اندونیزیا نه د راغلو مالونو لپاره لوی بازار دی. نو مونږ په اندونیزیا کی پانګه اچوو، زمونږ صادرات تقریباً په سلو کی ۵۰ ډیر شویدی، او مونږ د امریکا اواندونیزیا خلکو ته خپلی دروازی خلاصوو چه راشی او د یو بل سره کار بار اوتجارت پیل کړی.

امریکا په داسې یوې اندونیزیا کې ګټې لري چې د نړیوال اقتصاد د ځرنګوالي په ټاکلو کې خپل برحقه نقش ولري. هغه ورځې اوس تللې دي چې ۷ یا ۸ هیوادونو کولای شول چې خپلو کې سره کیني او د نړیوالو بازارونو استقامت او ځرنګوالي وټاکي. همدا وجه ده چې نن ورځ ۲۰ ستر هیوادونه د نړیوالې اقتصادي همکارۍ مرکز ګرځیدلی دی، تر څو راوتونکې اقتصادي قوتونه لکه اندونیزیا ستر غږ ولري او همدارنګه ستر مسؤلیتونه هم په غاړه واخلي چې د نړۍ اقتصاد لاربښوونه وکړی شي. او د بډو رشوتونو مخالفو سترو ۲۰ هیوادونو ډله کې د خپلو مشرانو له لارې، اندونیزیا باید د نړۍ په ستیژ کې د مخکښ هیواد نقش ولري او د شفافیت او محاسبې په چارو کې نورو ته مثال وګرځي. (چک چکې.)

امریکا د داسې اندونیزیا سره علاقه لري چې دوامدار انکشاف او پرمختیا ولري، ځکه په کومې طریقې چې مونږ وده کوو، هغه به زمونږ د ژوند او زمونږ د نړۍ د صحت ځرنګوالي او کیفیت ټاکي. همدا وجه ده چې مونږ د پاکې تکنالوجۍ د ودې په هڅه کې یو چې د صنعت قوت وګرځي اود اندونیزیا د طبیعي منابعو غټه شتمني خوندي کړي – او امریکا ستاسو دهیواد ټینګ قیادت ته د نړیوال اقلیم د بدلون سره د مبارزې په هلو ځلو کې هرکلی وائي.

د ټولو نه مهمه داه ده چې، امریکا د اندونیزیا دخلکو برې غواړي. د ورځې د خبرونو لاندې، مونږ باید د خپلو خلکو تر مینځ علایق او اړیکې ټینګې کړو، ځکه زمونږ امنیت او سوکالي شریکه ده. همدا وجه ده چې دا کټ مټ همغه څه دي چې مونږ يې کوو – یعنې زمونږ د عالمانواو محقیقینو تر مینځ همکاري زیاتوو او په ګډه د تجارت د ترقۍ لپاره کار کوو. او زه په تیره بیا پدې خوشحاله یم چې مونږ دا ژمنه کړیده چې د امریکائي اواندونیزیائي زده کونکو شمیر په خپلو هیوادونو کې ډیر کړو. (چک چکې.) مونږ غواړو چې ډیراندونیزیائي زده کونکي زمونږ په امریکائي پوهنتونو کې سبق ووائي او ډیرامریکائي زده کونکي ستاسو ملک ته د سبق ویلو لپاره راشي (چک چکې.) مونږ غواړو چې نوي علایق او نوي تفاهم د ځوانو خلکو تر مینځ ټینګ کړو چې ددې ځوانې پیړۍ تر پایه دوام ومومي.

دا هغه مسایل دي چې زمونږ په ورځني ژوند کې ډیر اهمیت لري. پرمختیا، داسې څه نده چې یوازې د بیلانس د کاغذ په مخ د ودې ارقام او اعداد وښیي. ددې معنی دا ده چې یو ماشوم کولای شي چې داسې مهارتونه زده کړي چې پدې بدلیدونکې نړۍ کې د پرمختګ لپاره ورته اړتیا ده. ددې معنی دا ده چې آیا یوه ښه نظریه کولای شي چې د کار بار اوتجارت په ترقۍ او پرمختګ کې وړاندې لاړه شي او که د بډو رشوتونواو اداري فساد په تور کې به راګیره او بنده پاتې شي. ددې معنی دا ده چې آیا هغو قوتونو چې یو وختې ما پیژندل او اندونیزیا ئې دومره بدله کړیده – تکنالوجي او تجارت او د خلکو اومالونو تګ راتګ – کولای شي چې د ټولې اندونیزیا اود ټول بشر د ژوند د ښه کولو لپاره کار وکړي، داسې ژوند چې د وقار او کرامت او د فرصت نښې پکې وي.

اوس نو، دغسې پرمختګ زمونږ د ډیموکراسۍ د نقش نه، نه بیلیدونکی دی.

نن ورځ، مونږ کله کله اورو چې ډیموکراسي د اقتصادي پرمختګ د لارې خنډ دی. دا نوې خبره نده. په تیره بیا د داسې بدلون او اقتصادي بې یقیني په دوران کې، خامخا ځیني خلک وائي چې دا آسانه لاره ده چې د پرمختګ لنډه لاره ونیسو او د بشر تجارتي حقوق ترینه واخلو او حکومتونه ته ئې ورکړو. خو دا هغه څه نه وو چې ما هند ته د خپل سفر په ترځ کې ولیدل، او هغه څه ندي چې اوس ئې دلته په اندونیزیا کې وینم. ستاسو بریالیتوبونه ښیي چې ډیموکراسي او پرمختګ، یو بل تقویه کوي او ټینګوي.

د هری بلی ډیموکراسی په څیر، تاسو پوهیږی چه په لاری کی خنډونه خامخا شته. امریکا هم د نورو نه توپیر نلری. زمونږ خپل اساسی قانون د داسی هڅی خبری کوی چه "ډیر بی عیبه اتحاد به راولو" او دا هغه سفر دی چه مونږ د کورنی جگړی د ناخوالو د گاللو نه راپدیخوا پری روان یو او خپلو ټولو خلکو ته د هغوی د مساوی حقوقو د ورکولو لپاره مبارزه کوو. خو کټ مټ همدا هلی ځلی دی چه مونږ ته ئی قوت او سوکالی راکړی، او د یوی لا ډیری عادلی اود لا ډیری آزادی ټولنی په مینځ ته راتلو کی ئی مرسته کړیده.

د نورو هیوادنو په څیر چه د استعمار د واکداری نه په تیری پیړی کی آزاد شویدی، اندونیزیا، ستاسو د تقدیر د ټاکلو او ښه کولو لپاره ډیری قربانی ورکړیدی. د اتلانو د ورځی معنی هم دا ده، چه اندونیزیا د اندونیزیائیانو ده. خو په نهایت کی تاسو هم دا فیصله وکړه چه د آزادی معنی دانده چه گنی د پردی استعمار ټینگ لاس لنډ کړی او د خپل هیواد د کوم پیاوړی سړی ټینگ لاس ئی په ځای راولی.

دی کی شک نشته چه ډیموکراسی هم خپلی ستونزی لری. هر څوک د هر رنگه انتخاباتو نتیجه نشی منلی. د ډیرو لوړو ژورو نه اوړی. خو دا داسی سفر دی چه پدی ارزی چه تاسی دا سختی وگالی اوستاسو کار یوازی د رایو په اچولو نه ختمیږی. ټینگی اداری پکار دی چه د قدرت د تمرکز مخه ونیسی. آزاد بازار پکار دی چه د افرادو د ترقی سبب وگرځی. آزاد مطبوعات او مستقل عدلی نظام غواړی چه د تیری اوزیاتی ریښی وباسی او په محاسبی ټینگار وکړی. آزاده ټولنه او فعاله خلک پکار دی چه عدم مساوات او بی عدالتی ته غاړه کی نږدی.

دا هغه قوتونه دی چه اندونیزیا په مخ بیولی شی. او پکارده چه اداری فساد د منلونه انکار وشی او پری نه ښودل شی چه د فرصتونو لاره بنده کړی؛ د شفافیت ژمنه وشی چه د اندونیزیا ټولو خلکو ته حکومت کی برخه ورکړل شی؛ او دا عقیده وی چه اندونیزیائیانو د دی لپاره دهغو ټکو په سر په گډه جنگ کړی او قربانی ئی ورکړی دی، چه دا ستر هیواد یو موټی ساتی.

دا د اندونیزیا د هغو خلکو پیغام دی چه د ډیموکراسی دا داستان پی په مخه بیولی دی – هغو ته چه د سورابایا د ۵۵ کلونو پخوا جگړی کی جنگیدلی دی، هغو زده کونکیو ته چه د ډیموکراسی د پاره ئی په ۱۹۹۰ لسیزی کی سوله ایز مارش کړی، او هغو مشرانو ته پیغام دی چه ددی ځوان هیواد د قدرت د سوله ایز انتقال چاری ئی په غاړه اخیستی دی. لدی امله چه په نهایت کی دا د دی ملک د خلکو حق دی چه دغه ډیره ښه، نوسانتارا چه د سابان نه نیولی تر میراوکه پوری غزیدلی ده، کلک وگنډی، (چک چکی) -- داسی کلک چه هر هغه ماشوم چه پدی ملک کی زیږیدلی باید مساوی حق ولری، که د جاواوی یا دی آچی؛ بالی وی که پاپوا – (چک چکی.) چه ټول اندونیزیائیان مساوی حقوق ولری.

دا هڅه د اندونیزیا هغه مثال ته هم غزیږی چه اوس ئی د ملک نه بهر ټینگوی. اندونیزیا داابتکار په غاړه واخیست چه د بالی د ډیموکراسی انجمن جوړ کړی، دا داسی خلاص انجمن دی چه نور هیوادونه به خپلی تجربی او بهترینی لاری چاری د ډیموکراسی د هلو ځلو د ترقی لپاره پکی سره شریکوی. اندونیزیا، دا ابتکار هم په غاړه واخیست چه د آسین هیوادونو په ټولنی کی بشری حقوقو ته ډیر پام واړول شی. د جنوب ختیزی آسیا هیوادونه باید دا حق ولری چه خپل سرنوشت په خپله وټاکی، اومتحده ایالات به په ټینگه ددی حق ملاتړ وکړی. خو د جنوب ختیزی آسیا د هیواودنو خلک باید دا حق هم ولری

چه خپل سرنوشت په خپله وټاکي. او همدا وجه ده چه مونږ د برما تازه انتخابات چه نه آزاد وو او نه عادلانه وغندل. همدا وجه ده چه مونږ ستاسو د ډیری ژوندی او فعاله مدنی ټولنی دکار ملاتړ کوو چه ددی سیمی د نورو شریکانو سره ئی کوی. ځکه هیڅ داسی دلیل نشته چه د بشری حقوقو د درناوی مسله باید د کوم ملک په سرحد کی بنده یاایساره پاتی شی.

لاس په لاس، دا د انکشاف او ډیموکراسی اړیکی تشریح کوی – دا ارزښتونه په ټولی نړی کی عام دی. د آزادی نه پرته سوکالی فقط بل رنگه غربت دی. لدی امله چه دا ټول د انسانانو گډ الهامونه اوارمانونه دی -- داسی آزادی چه پدی پوه شی چه ستا مشر باید تا ته محاسبه درکړی، یا دا چه د مشرانو سره د عدم موافقی له امله به تاسی زندان ته نه اچول کیږی، یا دا چه په عزت او وقار کی د زده کړی اوتعلیم او د کار کولو موقع او فرصت لری؛ او یا داچه کولی شی چه بی له کومی ویری او محدودیت نه په آزادی سره خپل مذهب ولمانځی. دا نړیوال ارزښتونه دی چه په هر ځای کی ئی باید رعایت او درناوی وشی.

اوس، مذهب وروستی موضوع ده چه زه غواړم نن پری وغږیږم – د ډیموکراسی او انکشاف په څیر – دا هم د اندونیزیا د داستان ضروری او اساسی برخه ده.

د نورو آسیائی هیوادونو په څیر، چه پدی سفر کی ورځم، اندونیزیا هم په معنویتو کی ډوب هیواد دی، داسی ځای چه خلک ئی په ډیرو مختلفو لاری د خدای عبادت کوی. ددی ډیری شتمنی تنوع تر څنگ، دا ملک د نړی د مسلمانانو د ډیر غټ شمیر د اوسیدو ځای هم دی – دا داسی حقیقت دی چه کله چه د یوه ماشوم په توگه ما د جاکارتا د یو سر نه تر بله پوری د آذان غږ اوریده، داخبره راته جوته او محسوسه وه.

همداسی چه افراد خپله عقیده په خپله تعریفوی، اندونیزیا هم یوازی مسلمان نفوس نلری. مونږ پدی هم پوه یو چه د متحده ایالاتو او د اسلامی ټولنو تر مینځ اړیکی د ډیرو کلونو نه راپدیخوا ورانی شویدی. د جمهور رئیس په توگه ما دا خبره په خپلو اولنیو کارونو کی راوستی چه دا اړیکی به بهتره کوم. (چک چکی.) ددی هڅی د یوی برخی په توگه زه د تیر کال د جون په میاشت کی قاهری ته لاړم، اود متحده ایالاتو اود نړی په گوټ گوټ کی د مسلمانانو تر مینځ په یوه نوی پیل وغږیدم – داسی نوی پیل چه مونږ ته د ا موقع راکړی چه د دی اوسنیو اختلافاتو نه واوړو.

ما هغه وخت هم ویلی وو، اواوس ئی بیا وایم چه هیڅ یوه وینا بی اعتمادی له مینځه نه شی وړی. خو هغه وخت هم پدی عقیده وم او اوس هم یم چه بله لاره نلرو. مونږ کولی شو چه پریږدو چه د اختلافاتو په رڼآ کی تحریف شو او آینده ته د شک او بی باوری په سترگه وگورو. یا مونږ کولی شو چه د گډو ټکي و د پیدا کولو لپاره زیار وباسو او د پرمختگ لاره ونیسو. او زه تاسو ته وعده درکولی شم – چه هر ډول خنډونوو اوناکامی سره چه مخامخ شو، متحده ایالاتو د بشری پرمختگ لاره نیولی او ژمنه کوی چه پدی لاری به روان وی. مونږ داسی خلک یو. او داکار مو کړی دی. او داکار به کوو. (چک چکی.)

اوس، مونږ په هغو مسلو ډیر ښه پوه یو چه د ډیرو کلونو نه د تاو تریخوالی سبب گرځیدلی دی – دا هغه مسلی دی چه ما په قاهری کی یادی کړی. پدی ۱۷ میاشتو کی چه دهغی وینا نه تیری دی، مونږ یو څه پرمختگ کړی دی خو لاهم ډیر کار مخی ته پروت دی.

په امریکا کی بیگناه ملکی خلک او په اندونیزیا او د نړی په ګوټ ګوټ کی لاهم ډیر خلک د افراطی نارامیو هدف ګرځی. ما دا خبره په ډاګه کړی ده چه امریکا د اسلام سره په جنګ کی نده، او هیڅ کله به نه وی. ددی په ځای، مونږ ټول باید په ګډه د القاعده او دهغی د ملګرو د ماتولو لپاره ګډ کار وکړو، چه د هیڅ دین رهبری په غاړه نلری – او یقیناً چه د اسلام په شان د نړی د یوه لوی او ستر مذهب د مشری سره هیڅ تعلق نلری. خو هغه خلک چه غواړی آباد اوسی باید چه دهشتګروته چه تخریب او ورانی کوی، هیڅ رنګه موقع او ځای ورنکړی. دا یوازی د امریکا کار ندی. په واقعیت کی ، دلته په اندونیزیا کی تاسو د افراطیانو د ریښو د له مینځه وړلو په برخه کی ښه پرمختګ کړی او د دغسی تشدد په ضد جنګیږی.

په افغانستان کی، مونږ لا هم د ائتلافی قواوو سره په ګډه کار کوو چه د افغانستان د حکومت ظرفیت زیات کړو چه خپله آینده په خپله خوندی کړی. زمونږ ګډ علایق په هغه جنګ ځپلی هیواد کی د سولی ټینګول دی – داسی سوله چه د ناړامو افراطیانولپراه د سیب او امن ځای برابر نکړی، او د افغانستانن خلکو ته امیدونه راوړی.

په عین حال کی، مونږ په یوی اساسی ژمنی کی پرمختګ کړی دی – او هغه په عراق کی د جنګ د ختمولو لپاره زمونږ هلی ځلی دی. قریب ۱۰۰،۰۰۰ امریکائی عسکر اوس زما د جمهوری ریاست په دوران کی د عراق نه وتلی دی. (چک چکی.) عراقیانو د خپل امنیت بشپړ مسؤلیت په خپله غاړه اخیستی دی. او مونږ به د عراق ملاتړ ته د داسی یوه حکومت په جوړولو کی دوام ورکړو چه د هغه هیواد ټول خلک پکی نمایندګی ولری، او مونږ به خپل ټول پوځونه خپل کور ته راولو.

په مینځنی ختیز کی، مونږ ناسم پیلونه او ناکامیٔ درلودی، خو د سولی د لاری په نیولو کی ټینګ پاتی یو. اسرائیلیانو او فلسطینیانو مخامخ خبرو باندی پیل کړی دی، خو ډیر زیات خنډونه لا هم پاتی دی. څوک باید پدی ونه غولیږی چه ګویا سوله او امنیت به په آسانه راشی. خو پدی کی هم باید څوک شک ونکړی چه: امریکا به د حل د یوی عادلانه لاری د پیدا کیدو لپا ره ، د هیڅ رنګه هلو ځلو نه لاس وانه خلی، داسی حل چه د ټولو زیدخله ډلو منافع پکی خوندی وی – دوه هیوادونه، اسرائیل او فلسطین، چه څنګ په څنګ به په سولی اوامن کی اوسیږی. دازمونږ هدف دی. (چک چکی.)

ددی ټولو مسلو د حل په لاره کی ستونزی ډیری دی. ځکه چه زمونږ نړی وړه شویده، او هغه قوتونه چه مونږ سره ټړی ډیر فرصتونه او ډیره شتمنی راپه برخه کوی، او دا قوت هم راکوی چه د پرمختګ د لاری نه بی لاری شو. په یوه بازار کی یو بم کولی شی چه د ټولی ورځی د ترقی او شور او زوږ نه ډک کار بار په ټپه ودروی. یوه آوازه چه ګونګسی ئی د چا تر غوږ شی کولی شی چه د حقیقت مخه ونیسی او د داسی ټولنوتر مینځ چه د کلونو کلونو راهیسی په سولی اوامن کی په ګډه ژوند کړی، د تاو تریخوالی اونارامیو د پیدا کیدو سبب وګرځی. د چټک بدلون په دی دوران کی چه ثقافتونه په جنګ شی، هغه څه چه مونږ ئی د انسانان په څیر په خپلو کی شریک لرو کله کله بیخی د میدان نه ورک شی.

خو زه پدی عقیده یم چه د امریکا اواندونیزیا تاریخ دواړه مونږ ته امیدونه راکوی. دا یوه کیسه ده چه زمونږ په ملی دستورونو کی لیکل شویده. په متحده ایالاتو کی زمونږ شعار ای پلیبروس اونوم دی – یعنی چه د ډیرو نه یو. بینیکا تونګال ایکا – وحدت په تنوع کی (چک چکی.) مونږ دوه هیوادونه یو، چه په بیلو بیلو لارو تللی یو. خو بیا هم زموږ هیوادونو ښودلی ده چه په سوونو میلیونه خلک چه مختلف عقاید لری کولی شی چه د یوه بیرغ لاندی په آزادی سره متحد او

یو موټی شی.  او مونږ پدی ګډی خواخوږی باندی آبادی کوو – د ځوانانو له لاری چه د یو بل په ښونځیو کی به سبق وائی؛ د تجارتونو لا لاری چه د ستری سوکالی سبب ګرځیدای شی؛ او د اساسی دیموکراتیکو اصولو او ارزښتونو او د بشری ارمانونو د خوندی کولو له لارې.

مخکی لدینه چه  دلته راشم، ما د استقلال جومات ولیده – د عبادت ځای چه کله چه لا زه په اندونیزیا کی وم د آبادی کار ئی روان وو. او ددی جومات دنګی مناری او لوی میدان می ډیر خوښ شو.  خو ددی جومات نوم او تاریخ د اندونیزیا د ستر توب علامه ده.  د استقلال معنی خپلواکی ده، او ددی جومات جوړیدل  د آزادی دپاره ددی ملک د مبارزی نښه وه. پدی برسیره، د عبادت دغه کور د زرګونو مسلمانانو د پاره یوه عیسوی مهندس جوړ کړی دی.  (چک چکی.)

د اندونیزیا روحیه همدا ده. دا د اندونیزیا د ځانګړی فلسفی، پانکاسیلا پیغام دی (چک چکی.)  ددی ترانګی په اوږدو کی چه د خدای ډیر ښایسته مخلوقات پکی دی، جزیری د داسی غرونو د پاسه راوچتی شویدی، چه د سولی په نامه یادیږی، او خلک ئی د خدای عبادت په داسی یوی طریقي  کوی چه دهغوی  خپله خوښه ده.  اسلام په ترقی کی دی، خو نور دینونه هم په ترقی کی دی.  انکشاف او پراختیا د ډیموکراسی په راتلو زیاتیږی.  پخوانی دود او دستور حتی پداسی حال کی هم پاتی کیږی چه راوچتیدونکی قوت په حرکت کی وی.

ددی خبری معنی دا نده چه ګویا، اندونیزیا بی عیبه ده. هیڅ ملک بی عیبه ندی.  خو دلته مونږ دا توان لیدلی شو چه بیل بیل نژادونه، او مذهبونه سره ترړی – د ا توان چه ځان په نورو کی وینی.  د یوه ماشوم په توګه چه د بل نژاد و، اود یوه لری ملک نه دلته راغلی و، ما دا روحیه  دی هیواد ته د رسیدو سره سم ولیده: سلامت داتانګ. د یوه عیسوی په توګه چه د جومات لیدو ته پدی سفر کی تللی یم، ما ته د یوه مشر دا الفاظ رایادیږی چه زما د سفر په باب ئی پوښتنه وکړه او وی ویل چه "مسلمانان هم په کلیساوو کی پریښودل کیږی. مونږ ټول د خدای بندګان یو."

دا د مذهبونو د ژوند څرک په مونږ ټولو کی شته. مونږ نه شو کولی چه شک او بی باوری او نامیدی ته تسلیم شو. د اندونیزیا او امریکا داستانونه مونږ ته امید او خوشبینی راکوی، ځکه دا راته وایی چه تاریخ د انسانانو د پرمختګ په خوادی؛ اوو حدت  د تفرقی په نسبت ډیر قوی دی؛ او ددی جهان خلک کولی شی چه په سولی کی ژوند وکړی. زما دعا دا ده چه زمونږ دواړو  هیوادونه په ګډه د کار کولو له لاری د ایمان او  هوډ په برکت دغه حقایق د ټولی نړی او ټول بشریت سره شریکولی شی.

سیباګای پینوتپ، سایا مینګوساپکان کیپاډا سیلوروه قشکیاټ اندونیزیا: تیریما کاسی اتاس. تیریما کاسی. اسلام وعلیکم، مننه.

پای        د سهار ۱۰:۳۰ بجی